د زیاتو معلوماتو لپاره:
اندی م.ای.کمپبیل
ریس عمومی
۰۷۹۸۱۳۷۰۲۳
acampbell@ndi.org

NDI
NATIONAL DEMOCRATIC INSTITUTE FOR INTERNATIONAL AFFAIRS

# په افغانستان کی د ټاکنو وروستنی معلومات

**د افغانستان ولسی جرگی ته ټاکنی، ۱۸ سپتمبر ۲۰۱۰ — له لومړی ورځی تر ټاکنو د ورځی : ۱۷ سپتمبر ۲۰۱۰**

ملی دیموکراتیک انستیتیوت په پام کی لری چی په افغانستان کی د ولسی جرگی د ټاکنو له بهیر څخه د څیړنی او نظارت په موخه د څیړنی او نظارت ماموریت د ټاکنو دورځی د مخه، د ټاکنو په بهیر کی او د ټاکنو په پای کی په لار واچوی. په دی ماموریت کی ۱۶۰ تنه نړیوال څیړونکی او افغان ناظرین د ټول هیواد په سطح گمارل شوی دی. د زیاتو معلوماتو لپاره دا ویب پاڼی کتلای شی: AfghanistanElectionData.org و NDI.org.

## افغانستان د رای ورکولو لپاره تیاری نیسی

### په ټول هیواد کی د ټاکنو کارکوونکی وروزل شول او د ټاکنو توکی وویشل شول

د ټاکنودخپلواک کمیسیون کارکوونکی له اوږدی مودی راهیسی د ټاکنو لپاره تیاری نیسی. کمیسیون وایی: ۵۸۱۶ د ټاکنو مرکزونه کولای شی ۱۱.۴ میلیونه رای اچوونکی ځای په ځای کړی. د جمعی په ورځ، کمیسیون تقریبا ۹۰،۰۰۰ د ټاکنو کار کوونکی په یوه ورځنی ورکشاپ کی وروزل چی د ټاکنود مرکزونو د څارونکو، د رایو د پاڼو ویشونکو او د رای د صندوقونو څارونکو پکښی ګډون درلود.

همدا راز د جمعی په ورځ، د رایو مرکزونه جوړ شول په شمول د هغو مرکزونو چی په خیمو کی جوړ شوی وو. د ورستیو دوو ورځو په ترڅ کی د رایو توکی د ساحوی پرمخبیوونکو له خوا د رای اچولو د مرکزونو مدیرانو ته وسپارل شول.

د ورستیو څو ورځو په ترڅ کی د ازادو ټاکنو کمیسیون د یو پلان په بنسټ په ډیر شمیر د ولسوالیو ساحوی ناظمین د دوی په ټاکل شوو ولسوالیو کی بیلابیلو ځایونو ته تعیینات کړل. د کارکوونکو بدلون



*افغانانو د ټاکنود توکو د لیږدولو لپاره د هیواد لیری برخو ته له هر ډول امکاناتو څخه له الوتکو نیولی تر ژوو کار واخیست.*

بدلون د ازادو ټاکنود کمیسیون د هغی ستراتیژی یوه برخه وه چی د دی کال په ټاکنو کی د درغلیو د مخنیوی په موخه تری کارواخیستل شو. ددی ستراتیژی په بنسټ د رایو ورکولو کارکوونکی له محلی فشارونو څخه لیری وساتل شی. دا بدلونونه د رایو اچولو د کارکوونکو ګمارل کیدلو وروسته او د رایو د مرکزونو د پرانیستلو مخکی ترسره شول . د دی کال په سر کی یو شمیر د ټاکنو ولایتی مشران نوو مراکزو ته لیږدول شوی وو. .

۴۸ شاعته مخکی له دی چی ټاکنی پیل شی، د ازادو ټاکنو د کمیسیون د ټاکنو د کمپاین د پایلی رسمی اعلان و کړ په داسی حال کی چی په ۲۰۰۵ کال کی د نوماندو د ترانسپورتی خدماتو لړی هم په همدی محال درول شوی وه. سږکال د نوماندو د ترانسپورتی خدماتو لړی له دی اعلان څخه بیله شوی وه. د امنیتی چارو اجنسیو خپلی امنیتی چاری د سپتمبر له ۱۵ نیټی پیل کړی او د ټاکنو تر پایلی به دوام ولری تر څو د هرډول پیښی نه چی د ټاکنو نه وروسته راتلای شی مخنیوی وکړی.

## افغانستان څنګه رای ورکوی: ځانګړی او نه لیږدیدونکی رایه

| | | | |
|---|---|---|---|
| **په ولسی جرگه کی** | پکتیکا :۴ (۱) | خوست :۵ (۱) | کوچیان :۱۰ (۳) |
| **موجود سیټونه (د ښځو** | زابل :۳ (۱) | پکتیا :۵ (۱) | فاریاب :۹ (۳) |
| **لپاره د بیل شوی** | ارزګان :۳ (۱) | کاپیسا :۴ (۱) | کندز :۹ (۳) |
| **سیټونو په شمول)** | پنجشیر :۲ (۱) | لوګر :۴ (۱) | بدخشان :۹ (۳) |
| کابل :۳۳ (۹) | نیمروز :۲ (۱) | بامیان :۴ (۱) | تخار :۹ (۳) |
| هرات :۱۷ (۵) | غور : ۶ (۲) | دایکندی :۴ (۱) | هلمند :۸ (۲) |
| ننګرهار :۱۴ (۴) | وردک :۵ (۲) | بادغیس :۴ (۱) | بغلان :۸ (۲) |
| غزنی۱۱ (۳) | سرپل :۵ (۱) | کنر :۴ (۱) | نورستان :۲ (۱) |
| کندهار :۱۱ (۳) | | لغمان :۴ (۱) | پروان :۶ (۲)\ |
| بلخ :۱۱ (۳) | | سمنګان :۴ (۱) | فراه :۵ (۱) |
| | | | جوزجان :۵ (۱) |

- د افغانستان د۳۴ ولایاتو څخه دهر ولایت لپاره د نفوسو په بنسټ سیټونه بیل شوی دی. د کابل ولایت لپاره ۳۳ سیټونه او د وړو ولایاتو لپاره لکه نیمروز او نورستان لپاره دوه سیټون ټاکل شوی دی.
- هر رای ورکوونکی کولای شی د خپلی خوښی کاندید لپاره یوه رایه وکاروی.
- د موکلانو یو ملی هیت کولای شی ۱۰ ځانګړی شوی سیټونه د کوچیانو د نفوسو لپاره وټاکی. د کوچیانو لپاره ځانګړی د رایو ورکولو مرکزونه په ټول هیواد ټاکل شوی دی.
- د هر ولایت او د کوچیانو لپاره د ټاکل شوو سیټونو ۲۵٪ د ښځو لپاره ځانګړی شوی دی.
- کاندیدان چی لوړ شمیر رایی واخلی د هر ولایت لپاره ځانګړی شوی سیټونه ورته ورکول کیږی. همدا پروسه د ښځو او کوچیانو لپاره هم کارول کیږی.
- د ډیر نفوس لرونکی ولایات لکه د کابل ولایت ښایی د زیات شمیر کاندیدانو د شتون له امله د ډیرو پاڼو لرونکو د رایو لست وکاروی. د دی کال د ولسی جرگی د ټاکنو لپاره له ۶۵۰ تنو څخه ډیرو نوماندو ځانونه کاندید کړی وو.



*د سپتمبر د میاشتی په لومړیو کی د هیواد تلویزیون په کندهار کی د ولسی جرگی د دریو تنو نوماندانو په منځ کی د مناظری په کوربه توب*

## وروستنی معلومات: د ټاکنو څخه د مخه د شکایاتو پروسه

د سپتمبر د ۱۵ نیټی د مطبوعاتی کنفرانس، د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون اعلان وکړ چی دوی ۱۰۸۹ شکایتونه د کمپاین د پیل له نیټی څخه تر لاسه کړی دی. ۶۰۰ ته نیږدی شکایتونو ته رسیده ګی شوی او د ولایتی ټاکنو شکایتونو کمیسیون (د مخکی له دی چی د رای ورکولو لومړی شکایت راشی د هغه مخنیوی وکړی) معرفی شو.

د سپتمبر د ۱۵ نیټی سره سم د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون ۵۸ غوښتنی تر لاسه کړی دی. یوازی دری غوښتنی د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون له خوا تر غور لاندی نیول شوی دی. د کمیشنر جان کریګلر په وینا دا د دی ښوونه کوی چی په ولایتی سطح د تحقیق کیفیت څومره لوړ دی.

د ټاکنو د شکایاتو کمیسیون وایی: د سپتمبر په ۱۶ نیټه، له هرات ولایت څخه ۱۶۳ شکایتونه او د لوګر او پکتیا له ولایاتو څخه یوازی دوه شکایت له هر ولایت څخه تر لاسه شوی دی. د شکایتونو مکمله تجزیه نه ده شوی.

د نوماندانو د لست څخه د ایستلو نه پرته چی د دولتی دندو څخه د نه استعفی له امله او یا د مخکینیو جرایمو د اقرار له امله تر سره شو، ټاکنو د شکایاتو کمیسیون د دوی د تصمیمونو په هکله ډیر معلومات د دی کمیسیون په ویب پاڼه کی نه دی خپاره کړی.

## افغانستان د رای ورکولو لپاره تیاری نیسی : (د لومړی پاڼی پاتی برخه)

*په کندهار کی ښځی د نوماندو د نمایندګانود روزنی په پروګرام کی چی د ان.ډی.ای له خوا په* ۳۱ ولایاتو کی په لار اچول شوی او له ۳۵،۰۰۰ څخه ډیر کسان په کښی روزل شوی دی.



## د ملی دیموکراتیک انستیتیوت د څیرنی او نظارت د لاسته راوړنو مهم ټکی

### شمال زون

د نړیوالو کارکوونکو په وینا په فاریاب ولایت کی ملیشا کولای شی د ټاکنو پروسه تر خپل اثر لاندی راولی که محلی قوماندانان د ټاکنو له نتایجو څخه راضی نه وو. اوزبک ملیشا د تیر کال په ترڅ کی د وسله والو ډلو څخه وتلی دی او د دوی د شمیر د زیاتوالی له امله ، کیدای شی چی نوماندان له دوی څخه د رای اچوونکو په څیر کار واخلی. د ویره هم شته چی ځینی نوماندان کیدای شی له همدی ملیشو څخه په دولتی ودانیو باندی د حملو لپاره کار واخلی لکه د ازادو ټاکنو د کمیسیون به ودانی او یا هم د نوماندانو د مخالفینو په ډلو.

تیر کال، حکومت شلو ملیشو ته پیسی ورکړی تر د ټاکنو د مرکزونوامنیت وساتی.

داسی ډلی اوس ډیری دولتی ودانی ساتی او والی له کورنیو چارو له وزارت څخه غوښتنه کړی تر څو د دی ملیشو څخه د ټاکنو په ورځ د امنیت د ساتلو لپاره کار واخلی.

سره له دی چی دا پروسه نهایی شوی نه ده ، خو ناظرینو توقوع درلوده چی دا ډلی به ځینی د رای ورکولو مرکزونه وساتی. حد اقل په یوه برخه کی د ی ملیشو د ټاکنو د توکو په ساتلو کی مرسته کړی ده. د سپتمبر د ۱۵ نیټی په مازدیګر د کوهستانی به ولسوالی کی یوی وسله والی ډلی د ټاکنو د توکو د لیږدولو په کاروان یرغل وکړ. یو پخوانی قوماندان چی اوس د ولایتی شورا غړی دی، وسله وال کسان د دی حملی د خنسا کولو لپاره واستول. نړیوال څارونکی وایی د ملیشا ډلو او ځینو نوماندانو تر منځ اړیکی چی پخوا قومندانان و ټولو ته څرګندی دی. په فاریاب ولایت کی وسله والی ډلی د زیاتیدونکی تاوتریخوالی په خاطر پر کنټل کیږی خو داسی خبرونه هم شته چی ځینو نوماندانو له دی ملیشو څخه د نمایشی امنیتی ستونزو لپاره کار اخیستی دی کوم چی پړه به یی په طالبانو او یا نورو وسله والو ډلو واچول شی.

داسی حوادث به د نورو نوماندانو د ناظرینو او همدا راز د فیفا د کارکوونکو ځینو خاصو ولسوالیو ته د نه تګ سبب وګرځی.

سره له دی چی مصاحبه کوونکو په ټاکنو کی د درغلیو او ممکنو تروریستی حملو په هکله رپوټونه ورکول خو له ټاکنو څخه یوه ورځ د مخه په جلال آباد کی کوڅی ارامه وی .

### ختیز زون

د چوپتیا د دور د پیل سره نوماندو پوسترونه ښکته شول . د ننګرهار ولایت د ازادو ټاکنو په دفتر کی د ولایتی ټاکنو د مشر په وینا، ځینی لوژستیکی ستونزی تر سترګو کیدلی لکه د رای ورکولو پاڼو رسول نول د رای ورکولو مرکزونو ته. د زده کړی پوګرام د ۱۶۰ تنو کارکوونکو لپاره په لار اچول شوی وو . دغو کارکوونکو دوه ساعته وخت درلود تر څو نوی د رای مرکزونو جوړ او د انتخاباتو په ورځ هغه مرکزونه تبدیل کړی چیرته چی ټولی ۶۰۰ د رای پاڼی استعمال شوی وی. ۱۵ ګاډی به د تیارسی په حال کی وی.

د سپتمبر په ۱۵ نیټه، په جلال آباد کی د امنیتی دلایلو او د ملی پولیسو د نشتوالی له امله د ۱۱۴ د رای ورکولو مرکزونو د تړل کیدلو په خاطر مظاهری وشوی. د ازادو ټاکنو د کمیسیون په وینا د امنیت د نیولو په خاطر به نه له محلی ملیشو او نه د کلیو له مشرانو څخه کار واخیستل شی.

د ټاکنو د ولایتی مشر په وینا د ټاکنوخپلواک کمیسیون د پنجشنبی په ورځ دا ومنله چی ۲۱ اضافی د رای ورکولو مرکزونه پرانیزی، سره له دی چی دا به دومره ممکنه نوی ځکه چی د ټاکنو توکی له مخکی په نورو ولایاتو کی ویشل شوی دی.




*د ټاکنو توکی په ټول هیواد کی ځای په ځای شوی دی. له نیمروز څخه نیولی تر نورستانه - سبا ته د رای ورکور د لړی د پیل په انتظار کی.*

**ملی دیموکراتیک انستیتیوت په افغانستان کی د ۲۰۰۲ کال راهیسی کار کوی او یو غیر دولتی، غیر انتفاعی او غیرسیاسی موسسه ده چی د دیموکراتیکو انستیتیوتنو د پیاوړتیا لپاره په نړیواله کچه د وګړو د ګډون له لاری په حکومتونو کی د حساب ورکولو او روڼتیا د راوستلولپاره کار کوی. د ۲۰۱۰ کال د ټاکنو لپاره، ان.ډی.ای د ۱۷۰۰ تنو څخه زیاتو نوماندانو لپاره سمینارونه، د سیاسی ډلو او له ۲۴۰ څخه زیاتو ښځو لپاره د زده کړی پروګرامونه په لار واچول او تخنیکی مرستی یی د ازادو او پاکو ټاکنو بنسټ چی په افغانستان کی تر ټولو لوی د ټاکنو د نظارت بنسټ دی وراندی کړی. ان.ډی.ای اوس مهال د نوماندو د اجنټانو د راپوردهی د ظرفیت په لوړولو بوخت دی تر څو دو وکولای شی د ټاکنو د ورځی راپور په سمه توګه وراندی کړی.**